بسم الله الرحمن الرحيم

## د هیواد حق او د هغه په لاره کې قرباني

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا» ژباړه:« ټول یو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونیسئ او ټیټ و پرك کېږئ مه.»**،او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

یقینا هیواد د هیوادوالو په زړونو کې ځانګړي ځای لري او هغه ته غاړه ایښودنه یو داسی فطرت دی چې سم بشري نفس پري ګرځیدلي دی اسمایی رحمه الله فرمایی: که چیرته ته غواړي چې د یو سړي وفا او عهد یی معلوم کړي نو د هغه غاړه ایښودنه خپل هیواد ته وګوره او خپلو ورونو د هغه هڅونه وګوره او په هغه څه باندي د هغه ژړا وګوره چې په تیر وخت کې تري غلطیاني شوی.

هیوادني مینه او هغه ته غاړه ایښودنه یو دیني وجیبه ده نو د همدي لپاره اسلامي شریعت هیواد ته د غاړه ایښودني لپاره بلنه ورکړي ده او همدارنګه دیته هڅونه یی کړیده چې د هغه د ترقي ودي او پرمختګ لپاره کار وشي نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې مدینه منوري ته هجرت وکړ نو خپل وطن مکي مکرمي ته یی نظر واړولو او وی ویل چې ته څومره ښایسته وطن یی او ماته څومره خوږ یی که چیرته ماته زما قوم زه له تا څخه نه وی ویستلي نو زه به هیڅکله نه وم وتلي او کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مدینه منوري ته یی هجرت وکړاو هلته یی استوګنه غوره کړه نو الله جل جلاله څخه یی دعاء وکړه چې مدینه منوره هم هغه ته محبوبه وګرځوي لکه چې وی فرمایل: ای الله ماته مدینه منوره محبوبه وګرځوي لکه څنګه چې مکه مکرمه د زما لپاره ګرځولي وه او د هغه څخه هم زیات.

هیوادنی مینه یواځې په خبرو باندي نکیږي چې وویل شي او یاهم په شعارونه باندي نکیږي چې پورته کړای شي بلکې دا یو سلوک او قرباني ورکول دي په هر هغه څه باندي چې تاته ډیر ګران او پاک وي هیوادني مینه داده چې په ښه ډول سره هیواد ته غاړه کیدي او د هغه د امنیت او برقراري لپاره کار وکړي او همدارنګه د هغه د ودي او پرمختګ لپاره هڅي وکړی همدارنګه ټولو حقوقو او واجباتو ته درناوي وکړي حقیقي هیوادني مینه داده چې د هغه په لاره کې ځان قربان کړي اود خپل هیواد لپاره قرباني ورکړي ترڅود هغه عزت او لوړ شان وساتلي شي.

د هیوادني حقونو د جملي څخه یو هم د هغه په لاره کې قرباني ورکول دي بي له شکه چې د خپل ځان قرباني کول د هیواد لپاره د قرباني د لوړو مرتبو څخه ګڼل کیږي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:**« مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم**

**مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا» ژباړه:« له مؤمنانو څخه ځيني داسي شخصيتونه شته چي له الله سره يې كړې ژمنه رښتيا كړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره كړ او څوك د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی پخپله كړنلاره كښي هيڅ تبديلي را نه وستله.»**همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ ته زيری راكړي دي چې د هيواد ساتونكي او همدارنګه حمايه كوونكي چې خپل ځانونه يدي لاره كې قرباني كوي د اور څخه به خلاصی مومي لكه چې نبي كريم صل الله عليه وسلم فرمايلي دي: دوه هغه سترګي چې اور به ورته نه رسيږي يو هغه سترګه چې د الله د ويري نه وژاړي او بله هغه چې د الله په لاره كې ساتنه وكړي نو د همدي لپاره د قرباني خاوندان د الله جل جلاله له لوري غوره كړي شوي دي او د انبياؤ ريښتينويوكو اوصالحانوپه جمله كې ګرځول شوي دي لكه چې الله جل جلاله فرمايي:**« وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ» ژباړه:« الله دا كتنه غوښتله چي په تاسي كښي رښتيني مؤمنان څوك دي، او د هغو خلكو انتخابول يې غوښتل چې په واقعي توګه (د رښتينولئ) شاهدان وي؛»** او بيا فرمايي:**« وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا» ژباړه:« څوك چي د الله او پيغمبر اطاعت وكړي، نو د هغو خلكو ملګري به وي چي الله پېرزوينه پر كړېده؛ يعني: پيغمبران، رښتيا ويونكي، شهيدان او صالحان. د هغو ملګرتيا څومره ښه ده چي چا ته په برخه شي».**

******

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونكی دی، او زه ګواهي وركوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي وركوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيكی سره د هغه تابعداري كوي.

د هيواد وجيبه پخپلو خلكو باندی دادی چې د هغه ټول بوج په غاړه واخلي او د هر هغه څه ته غاړه كيږدي چې د هيواد ګټي پكې وي كه چيرته هيواد دوي څخه دا غواړي چې خپل ځانونه قربان كړي نو بايد دريغ پكې ونكړي او خپله دا وجيبه اداء كړي ترڅو د هيواد ګټي خوندي شي او هيواد ته بايد غاړه كيښودلي شي او د هغه سره مينه وكړي شي او په اخلاص ورته كار وشي.

د هيواد په لاره كې قرباني بايد يواځي يو نسل ورنكړي بلكي د هيواد ټول وګړي بايد دا كار ترسره كړي او په ګډه سره پرله پسی ټول نسلونه د هيواد د ودي او پرمختګ لپاره كار وكړي د هيواد د مهمو حقونو د جملي څخه بل هم په ښه ډول سره كار ترسره كول دي نبي كريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې الله جل جلاله په تاسو كې هغه څوک خوښوي چې كار كوي او هغه هم په ښه ډول ترسره كړي.

همدارنګه لدي جملي څخه بل هم د خپل وظيفي او وجيبي په ښه ډول سره اداء كول دي عامه دنده يو امانت او مسؤليت دي چې د هغه حق بايد اداء كړي شي ځكه دا يو شرعي او هيوادني وجيبه ده او په هغه كې نه پاملرنه كول پخپله د فساد د خطرناكو ډولونو د جملي څخه ګڼل

کیږي نو له همدې لپآره انسان ته مناسبه ده چې د هغه زړه او ضمیر ژوندي وي او همیشه د مسؤلیت احساس وکړي ځکه چې الله جل جلاله فرمایي:**« وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ» ژباړه:« چې هر چیري یاست، هغه ستاسي سره دی. تاسي چې هر کار کوئ الله یې وینـي».**

همدارنګه لدې جملې څخه بل هم د هیواد بیرغ او د ملي سرود اود ملي نوامیسو اود هیوادني شعارونو ساتنه ده بیرغ د دولت شعار دی او همدارنګه هغه عنوان دی چې د هغه ګرد چاپیره د هیواد ټول وګړي چې په داخل کې وي او که په خارج کې هغه راټولیږي او د هغه د چتر لاندې ټول لاسته راوړني او پرمختګونه ترسره کوي نو هغه ته درناوي کول د لومړیتوبونو د جملې څخه ګڼل کیږي او د هیواد د جوړښت مهمو بنسټونو د جملې څخه ګڼل کیږي.

همدارنګه د دی جملې څخه بل هم دادی چې په بهر او داخل کې په ښه ډول سره نمایندګي وکړی او په ټولو هیوادني او نړیوالو غونډو کې هیواد نوم لوړ وساتي او پدې باندې هڅه وکړی ترڅو د هیواد بیرغ په ټولو هیوادونو کې لوړ وساتي او انسان باید تل د خپل هیواد لپاره ښه استازي په توګه سره کارونه ترسره کړي.

همدارنګه لدې جملې څخه بل هم دادی چې هیچا ته اجازه ورنکړي شي چې د هغه په خاوره او شتمنیو باندې تیري وکړي او یا هم وینا او عمل سره زیان ورته ورسوي نو د همدې لپآره د هیواد د دښمنانو مخه باید ونیول شي هغه که په خبري سره وی او که په نفس سره وي اویا هم هر هغه څخه چې د دفاع لپاره اړین وي.

**الله د زمونږ ګران هیواد مصر او د نړی ټول هیوادونو ساتنه وکړي.**